# Life and works of Dr. Muhammad Azam Azam

# د ډاکټر محمداعظم اعظم ژوند او فن

**Miss. Zahid Bibi**★

**Abstract:**

In this topic it has been tried to put light on the life and works of late Dr. Muhammad Azam Azam. It has been attempted to describe his educational life, his literary services and achievements.

In modern Pashto literature Dr. Muhammad Azam Azam has a very prominent position. He belongs to the generation of Pashto poets who get modern education at Islamia College Peshawar.

Dr Azam is a top modern poet, a famous play writer of radio and TV. A researcher and critic and above all a very successful teacher and research supervisor.

شلمه عیسوي پیړۍ د پښتو ادب په حواله ډېره نېک فاله ثابته شوې ده .په دغه زمانه کښې نۀ صرف د پښتو د جدید ادب نوي اصناف مخې ته راغلل بلکې په دغه زمانه کښې د تخلیق، تحقیق او تنقید په حواله ډېر تکړه، تعلیم یافته او د رسا فکر خاوندان شاعران او ادیبان هم تر نظر شول.چې بیا ئې د وخت سره سره ځانونه ثابت کړل.په دغه نوموړو کښې یو د چارسدې د رړو کلي د حیدرخان زوے اعظم خان هم شامل دے ، څوک چې په کال ۱۹۴۰ کښې پېدا شوے وۀ.

د قلم خاوندان په پاڼو کښې ستر محقق همېش خلیل لیکي:

" د محمد اعظم اعظم د پلار نوم حیدرخان او زېږېدنه ۲۱ دسمبر ۱۹۴۵ء ده .
کو کلے ئې رړ چارسده ده." ۱

په خپل یو بل کتاب کښې همېش خلیل د اعظم صاحب د پېدائش کال ۱۹۴۱ء یاد کړے دے.لیکي:

"اعظم د چارسدې په رړ نومې کلي کښې د حیدرخان مهمندزي کره په ۲۱

★ PhD Scholar Department of Pashto University of Peshawar

دسمبر ۱۹۴۱ء کښې پېدا شو." [۲]

ښاغلي عبدالله جان عابد هم په خپل تحقیق کښې د اعظم صاحب پېدائش دغه یاد کړے دے ـ لیکي:

"ڈاکٹر محمد اعظم اعظم ۲۱ دسمبر ۱۹۴۱ء کو چارسدہ کے گاؤں رجڑ میں پیدا ہوئے۔ والد کا نام حیدر خان ہے۔" [۳]

ترجمه: ډاکټر محمد اعظم اعظم ۲۱ دسمبر ۱۹۴۱ء کښې د چارسدې په رجړ کښې پیدا شو ـ د پلار نوم ئې حیدر خان دے ـ

د ډاکټر محمد اعظم اعظم په حقله تازه تحقیق ځوان محقق مصطفی کمال کړے ، هغه په خپل کتاب کښې لیکي:

"پروفېسر ډاکټر محمد اعظم په ۲۱ دسمبر ۱۹۴۰ء کښې د چارسدې ضلعې په مشهور کلي رجړو کښې د حیدرخان کره پېدا شوے ؤ ـ" [۴]

د پېښور پوهنتون په ریکارډ کښې هم ۲۱ دسمبر ۱۹۴۰ء درج دے چې د مصطفی کمال تحقیق سره سمون خوري ـ

محمداعظم د ابتدائي زدکړو دپاره په کال ۱۹۴۷ء کښې د رجړو په پرائمري سکول کښې داخل کړے شو ـ په کال ۱۹۵۲ء کښې ئې دلته نه شلورم جماعت پاس کړو ـ د مخکښې تعلیم دپاره ئې په ګورنمنټ هائي سکول رجړ (چارسده) کښې داخله واخسته ـ بیا ئې په کال ۱۹۵۷ء کښې د اسلامیه کالج پېښور نه په سائنس کښې دولسم پاس کړو ـ هم دلته ئې د بي.اے. (څوارلسم) کولو دپاره داخل شو چې ورته ډېر ښۀ ادبي ماحول په لاس ورغلو ـ هم دغه شان ئې د کال ۱۹۶۳ء کښې د پښتواکېډیمۍ پېښور پوهنتون نه ایم اے پښتو ډګري تر لاسه کړه ـ

اروابناد اعظم صاحب د خپل ادبي ژوند ابتداء په حقله یو ځاے کښې وائي:

"زما د سکول په زمانه (د ۱۹۵۱ء نه تر ۱۹۵۷ء) کښې زمونږ په کلي کښې یوه ادبي جرګه وه ـ شمس الدین مفلس دراني، رفیع الدین سېلاب، ورید خان، شاهین او احسان الدین د دغه جرګې مشران ؤ ـ زۀ به هم د دوي سره کښېناستم پاڅېدم ـ بلکې د دې جرګې روداودنه به مې لیکل ـ دغه شان د سکول زمانې نه ادب سره زما علاقه ورځ په ورځ مضبوطېده ـ دغه وخت به د دوي شعرونه په انجام، شهباز اخبارونو کښې چاپ کېدل ـ ما سره د دوي ټولو

سلوک ډېر ښهٔ ؤ ."[۵]

ډاکټر محمد اعظم اعظم د خپلې فطري او غېر معمولي صلاحيتونو په وجه د شلمې صدۍ د اخري څلور لسيزو نه تر يويشتمې صدۍ اول لسيزې پورې د پښتو ادب په مملکت ډېر په شان و شوکت او رعب دار راج کړے دے .د خپل فن ، فکر، لفظ و معنې ، د رنګ او اهنګ ډېر ګلونه ئې د پښتو ادب په جولۍ کښې اچولي دي س هغهٔ د پښتو ادب ګلستان د خپلې شاعرۍ، نثر نګارۍ او ډرامه نګارۍ په سپرلي رنګين او حسين کړے دے .ځکه چې هغه د شاعرۍ مزاج، د نثر نګارۍ په روح او د ډرامه نګارۍ په روايت پوهه انسان ؤ .ډاکټر محمد اعظم اعظم غونډې لوے شاعر، اديب، محقق، ډرامه نګار، افسانه نګار، مزاح نګار په تاريخ کښې چرته يو يو پېدا کېږي چې ګڼ اړخيز ژوند او شخصيت ولري .

ډاکټر محمد اعظم اعظم په پښتو ادب کښې داسې شخصيت ؤ چې په پښتو ادب کښې ئې متنوع اصنافو بل ثاني نشته .د هغهٔ د ژوند او ادب ګڼ اړخونه دي لکه شاعر، اديب ، ليکوال، ډرامه نګار، ترجمه نګار، افسانه نګار . په دې ليک ئې دغه مختلف اړخونو ته د کتلو هڅه کوو .

**شاعري :**

شاعري د اعظم صاحب اصل فن دے .هغه د جديد دور ډېر اهم شاعر ؤ .په هغهٔ کښې د احساس جذبه ډېره زياته وه .د هغهٔ ټوله شاعري د نزاکتونو نه ډکه ښکاري .د محمد اعظم صاحب جذبه عشق او محبت په پوره اوږده دوره خوره پاتې شوې ده .څهٔ وخت چې په پېښور کښې د صنوبر حسېن کاکاجي د مشرۍ لاندې د اولسي ادبي جرګې مېټنګونه ليدل نو د يو ډېر کم عمر زلمي په حېث اعظم صاحب د دې غونډو نه استفاده کړې وه او د شاعرۍ يو مضبوط بنياد ئې جوړ شوے ؤ .بل په هغه دور کښې سېد رسول رسا ، اشرف مفتون فضل حق شېدا ، امير حمزه شنواري او اجمل خټک د پښتو شاعري بلند ترين معيار ته رسولې وه . اعظم صاحب په عمر کښې د دغو ټولو نه کشر ؤ .د دغه شخصياتو نه ژور اثر قبول کړے ؤ . هغه د مفتون د غزل نه زيات متاثره ښکاري .هغه د نرمې لهجې يو اوچت او روماني شاعر ؤ . په خپل انداز کښې صاحب طرز شاعر ؤ .کلام ئې لږ دے خو معياري او مقبول دے .په خپله د اعظم صاحب په قول:

" زما چې څومره نوم دے نو ما دومره کار نهٔ دے کړے بلکې زهٔ دېرش کلن

وم نو هم د شهرت په نوم دروند وم۔"[٦]

د هغهٔ په شاعرۍ کښې د فطرت حسن هم شته۔ د دغه حسن په لمن د طبقاتي خد و خال عکس هم۔ د هغهٔ د شاعرۍ مجموعه جنون او ژوندون په کال ۲۰۰۸ء کښې چاپ شوه۔ په دغه مجموعه کښې د شاعرۍ قدیم رنګ هم شته او جدید هم۔ مقصدیت په کښې هم شته او رومانیت هم۔ او په دغه مجموعه د پښتو ژبې محاورې، لغات، مرکبات ، علامات او ترکیبونه په کښې په ډېر ښکلي انداز سره استعمال کړي دي۔ هغه په خاموش نومې نظم کښې وائي :

د ستا لمبو کښې د حیا خاموشي مخکښې هم وه
د ستا په شونډو د وفا مهرونه مخکښې هم وو
نن دې په سترګو کښې د غم زړهٔ هم اوبهٔ نهٔ شولو
نن خو خپل ځان ته هم د ځان ژړا ژړلے نهٔ شي[٧]

ډاکټر اعظم چې څهٔ لیدل او ربدل او محسوسول هم هغه ئې په اسانه، روانه او ساده ژبه کښې اولس ته وړاندې کړي دي۔ هغهٔ خپل فن کښې داسې تحلیل کړي وو چې فن ئې اعظم او اعظم ئې فن دے۔ په یو غزل کښې وائي :

د چا فکر مې په زړهٔ شو د چا ذکر مې په خولهٔ دے
چې مې خیال غزل غزل دے چې خبره مې نغمه شوه[٨]

ډاکټر اعظم د شاعرۍ په خپل کتاب جنون او ژوندون کښې ګڼ نظمونه او غزلونه په مختلفو موضوعاتو لیکلي دي۔ په دغه شاعرۍ کښې مونږ ته حمدیه او نعتیه شاعري هم په نظر راځي۔ هغه یو سوچه مسلمان ؤ او د رسول اللهﷺ سره ئې بې کچه مینه لرله۔ د خپلې مینې اظهار ئې په دې اشعارو کښې کړے دے :

زهٔ دلته خو نظر مې ګرفتار په مدینه کښې
دلدار په مدینه کښې ، دیدار په مدینه کښې
د لوے ښنستن له رویه ئې اعظمه دیدن غواړه
سردار په مدینه کښې سرکار په مدینه کښې[٩]

د اعظم صاحب غزل کښې یو منفرد انداز په نظر راځي۔ د منفرد انداز بیان په وجه ئې سړے پېژني۔ چې هم دا د اعظم غزل دے۔ څنګه چې اعظم صاحب په دې شعر کښې وائي:

اے عشقه زړۀ مې خوښ کړۀ په نغمو کښې اوسېدل
ژوندون لکه د شمعې په لمبو کښې اوسېدل [10]

**نثرنګاري:**

د شاعرۍ سره سره محمد اعظم اعظم په نثر کښې زيات کار کړے دے او په نثر کښې د هغۀ تخليقي فن ډرامه نګاري وه. هغوي د ۱۹۷۴ء نه د ډرامې ابتدا کړې وه. د هغۀ کردارونه اکثر د ينيورستۍ زلمي هلکان او ځوانې جينکۍ دي چې د ژوند مسئلو سره نوي نوي مخامخ شوي دي. د محمد اعظم صاحب په ډرامو کښې ورکې لارې، ناموس، زولنې، ستړے مه شې، سفر، زنجيرين او امنګ زياتې مشهورې ډرامې دي. هغه يو ښۀ کامياب ډرامه نګار ؤ. هغه په خپله د د خپلې شاعرۍ او ډرامه نګارۍ په حواله وائي:

"زما په خپله شاعري او ډرامه نګاري دواړه خوښ دي، په دغو دواړو کښې زۀ فيصله نۀ شم کولے چې شاعري مې زياته خوښه ده او که ډرامه." [11]

د هغۀ ډرامې په مختلفو برخو تقسيم دي:

1. د سټېج ډرامې.
2. رېډيائي ډرامې.
3. ټيلي ويژن ډرامې.
4. ترجمه شوې ډرامې.
5. چاپ شوې ډرامې.

د ډاکټر محمد اعظم ډرامه لکه د رحمان بابا د شاعرۍ خصوصيات لري او د عوامي ذوق او عواميت هم. که يو خوا په کښې د فن او تکنيک اعلى نمونې دي نو بل خوا په کښې د عام پښتون اولس ته هم خپل شکلونه او خپل عکسونه ښائي.

ضروري نۀ ده چې هر ښۀ شاعر دې ښۀ نثر نګار هم وي او نۀ دا ضروري ده چې يو ښۀ نثر نګار دې شۀ شاعر هم وي. خو اعظم صاحب دا توازن ډېر برابر ساتلے دے او څومره چې د هغۀ شاعري معياري ده د دې نه زيات ئې نثر هم دے. په نثر کښې د هغۀ مېدان تحقيق، تنقيد، ډرامه، افسانه، طنز و مزاح، تکل، ترجمه او داسې ځينې نور ګڼ اصناف دي. دا هم د اعظم اعزار دے لکه څنګه ئې چې د شاعرۍ ابتدا د سکول د زمانې نه کړې ده هم دغسې ئې د کالج دپاره ډرامې او نور مزاحيه خاکې ليکلې او بيا به ئې په خپله ډائرېکټ کولې. دا

سلسله دومره مقبوله شوه چې د رېډيو پاکستان پېښور د ډرامې پروډيوسر د اعظم صاحب نه د ډرامې غوښتنه وکړه.

په کال **۱۹۶۴**ء کښې د خاندان نومې ډرامه ئې د رېډيو دپاره په وړومبي ځل وليکله. هر کله چې دا ډرامه نشر شوه نو هر طرف ته ئې د کاميابۍ اوازې خورې شوې او بيا دا سلسله په باقاعده توګه روانه شوه او هم دا د ډاکټر اعظم يو ځانګړے انداز دے. هر کله چې د پاکستان ټيلي ويژن دور شروع شو او پېښور کښې په کال **۱۹۷۴ ـ ۱۹۷۵**ء کښې ځانګه جوړه شوه نو وړومبۍ پښتو ډرامه ورکې لاړې ورته محمد اعظم ليکلې وه. هم دغه ډرامه په وړومبي ځل ټيلي ويژن کاسټ شوه. دا ډرامه شپاړس قسطونو کښې وچليده. څنګه ئې چې د رېډيو ډرامې کاميابې دي دغسې ئې د ټيلي ويژن ډرامې هم شاهکار دي.

محمد اعظم اعظم د ډرامه نګارۍ فن ته د کمال فن ورکړے دے. د هغۀ د ليکل شويو ډرامو شمېر ډېر زيات دے. د هغۀ د ناڅاپي مرګ په وجه د پښتو ډرامې مېدان ډېر زيات متاثره دے. هغه پښتو ادب کښې د ډرامې يو بې تاجه بادشاه ؤ. په ګڼو ژبو ئې د ښۀ عبور له وجې ښې ښې ډرامې ليکلې دي. لکه په لشې کښې د پښتو نومورے ليکوال مولانا عبدالقادر ليکي:

> "په دې مجموعه کښې د ژوند په مختلفو اړخونو ډرامګۍ او مضمونونه شامل دي او فنکار په خندا خندا کښې د اولس د ژوند په مختلفو شعبو کښې ترخې خبرې کړې دي چې د اورېدونکي يا لوستونکي پرې په هغه وخت اوخاندي ولې چې حقيقت ته ئې وګورې نو هغه د اولس د يو غټ مرض دپاره يوه ډېره فائده منه نسخه وي."[۱۲]

لشې چې د ډرامو او تکلونو مجموعه ده. مسته نيستي نومې ډرامه باندې د نظر اچولو نه پس لوستونکے د اعظم صاحب نثر ته حيران شي. مسته نيستي يوه وړه طنزيه او مزاحيه ډرامګۍ ده. د غربت او مفلسۍ يو داستان دے. د ډرامې څلور بنيادي کردارونه دي. دا ډرامه خوندورې او جاندارې مکالمې لري. ساده نرمه ژبه او وړې وړې جملې د مکالمې خوند نور هم زياتوي. لکه:

> "کمين: (راننوځي) ښې چارې ختو جانه! څنګه يواځې ناست ئې (په مزکه کښېني)."

ختمو: راځه یار ما سره په کټ کښېنه ـ څهٔ دې راته په مزکه پرلت وغزولو ـ جامې به دې په خاورو شي ـ

کمین: (پښې نورې هم غزوي) نېک بخته ! په خاورو کښې څهٔ خاورې شي ـ دومره خیرې ئې اخستے دے چې دوړه پرې چا ته نهٔ ښکاري ـ خو خدا ے ته دې حال ښکاره وي (سوړ اسوېلے کوي)

ختمو : ځه کنه یو سر تمباکو شته س دې ساړو خو راله سحره راسې زاره شنه کړه اوس خو ترې هغه لوخړه قدرې هم نهٔ خېژي ـ ''[۱۳]

دغه شان ئې د ښکلي نثري اسلوب په برکت د منظرکشۍ نمونې هم د کتو دي چې د ډرامه نګار په نثرنګارۍ فنکارۍ دلالت کوي ـ د ملا صېب او د هغهٔ د زوي چې ختمو او کمین سره کومې خبرې کړې دي منظر کشي ئې د کمال ده ـ

''ملا صېب: او زوي راځي د ملا صېب یو لاس کښې کتاب دے او په بل لاس کښې کوتنۍ ده ـ او د زوي سره ئې ډوډۍ ده چکونه ترې وهي ـ

ملا صېب: السلام علیکم ورحمة الله و برکاته!

ختمو: ولیکم ملا صېب: ډېرې ورځې پس دې ځان وښوولو ـ دا کوم ځا ے ګرځېدې؟

ملا صېب: اشنایانو ! بره ختلے وم ـ درې کاله مې په وطن واړول ـ بیا مې تاسو په په زړهٔ راورېدئ ـ ځان مې درله راورسولو ـ

کمین: د ماشوم ډوډۍ اخلي او ماشوم په ژړا کېږي س خبیثه چپ شه ـ مه ژاړه ـ کاکاجي دې دے کنه ـ یاد دې نهٔ شي چې هغه د اختر په ورځ ئې درله حلوه اخستې وه ـ ''[۱۴]

**ترجمه نګاري :**

ډاکټر محمد اعظم یو ښهٔ ترجمه نګار هم ؤ ـ د پښتو سره سره ئې په نورو ژبو (انګرېزي، اردو، فارسي ) باندې هم ښهٔ پوهېدلو ـ هغهٔ چې څومره هم ترجمې کړې دي ، هغه ترجمې نهٔ ښکاري بلکې د یو نوي تخلیق یقین او باور پرې کېږي ـ

د ډاکټر محمد اعظم اعظم د ترجمه نګارۍ د فن او هنر ساهو نندار ه مونږ د هغهٔ په دوو چاپ شوو کتابونو کښې کولے شو ـ چې نامې دا دي:

۱.د معرفت ګلونه (جون ۱۹۹۵ء)
۲.انداز ځیرنه (۱۹۹۵ء)

د معرفت ګلونه د ایران د انقلاب مشهور باني او روحاني شخصیت امام خمیني د فارسي ژبې د عارفانه نظمونو ترجمه ده .دا کتاب په دېرشو مخونو مشتمل دے .د دې ترجمه ځان له یو بیل مقام لري.دغه کتاب اول ځل په کال ۱۹۱۲ء کښې ترجمه شوے ؤ.بیا دا ترجمه شوے کتاب ډاکټر محمد اعظم په جون ۱۹۹۵ء کښې شائع کړو.د دې ترجمې په باره کښې محمد اعظم صاحب په خپله وائي :

"د حضرت امام خمیني د دې منتخب شوو غزلو ترجمه د فارسۍ نه په اردو او انګرېزي ژبو کښې هم شوې ده او ما د دې واړو ژبو د حسن د کتلو نه پس په پښتو کښې د دې ترجمې زیار کړے دے چې د شعر خیال او روح محفوظ پاتې شي او د ژبې او بیا ښائست هم مناسب وي." [۱۵]

د ډاکټر اعظم دغه پښتو ترجمه کړي نظمونو ته سید غیور حسېن ترتیب ډېر په ښکلي انداز سره ورکړے دے.د معرفت ګلونه یو نظم د نمونې په ډول یو شعر داسې دے :

دل کـــه آشـــفته روی تـــو نباشــد دل نیـســت
آنکــه دیوانــه خــال تــو نــه شــد عاقــل نیســت [۱۶]

ډاکټر محمد اعظم د دغه کلام ترجمه په پښتو کښې دا رنګ کړې ده:

چــې ســتا پــه مــخ نــۀ وي شــیدا د زړۀ حاصــل بــه څــۀ وي
چــې ســتا پــه خــال ځــان ستي نـۀ کــړي نـو عـاقـل بـه څـۀ وي [۱۷]

د ډاکټر محمد اعظم اعظم بل ترجمه شوے کتاب اندازِ ځیرنه دے .دغه کتاب په کال ۱۹۹۵ء کښې چاپ شو .او دا ترجمه شوے کتاب په یو سل شپږ ویشت مخونو باندې خور دے.کوم چې اکادمي ادبیات چاپ کړے دے.

ډاکټر محمد اعظم دغه کتاب کښې موجود ټول نظمونه د ازاد نظم په هیئت کښې ترجمه کړي دي.چې پښتو ادب کښې د ازاد نظم یوه ښکلې نمونه ده .په دغه کتاب کښې ښاغلے فیډریکو مایور د هغه وخت د خلقو د حالاتو یوه ښکلې جائزه د خپلې نوکرۍ په دوران کښې اخستې ده.

ډاکټر محمد اعظم د شاعرۍ د هر یو صنف نه په ښۀ توګه خبر ؤ.غزل، نظم، او ازاد

نظم وغیره ـ د دې کتاب ترجمه هغهٔ په اسانه ، روانه او سلیسه ژبه کښې کړې ده ـ د دې کتابونو نه علاوه هغهٔ د خپلو ډرامو ترجمه هم په ښکلي انداز سره په اردو ژبه کښې کړې ده ـ د زولنې ډرامه ډاکټر محمد اعظم په ۱۹۸۲ ، ۱۹۸۳ء کښې د زنجیرین په نوم د خلقو په اصرار ترجمه کړې ده ـ ناموس نومې ډرامه هم په اردو ژبه کښې په کال ۱۹۸۲ ، ۱۹۸۳ء کښې ټیلي ویژن په شیشه باندې نشر کړه ـ ډاکټر محمد اعظم اعظم په حقیقت کښې اعظم ؤ ـ خپل قسمت ورسره ملګرے ؤ چې کوم کار ته به يې لاس واچولو ، ځان به ئې ځلولو ـ دے په حسن او ښکلا مئین ؤ ـ دهٔ ته چې په کائنات کښې څهٔ هم ښائسته ښکاریدل هغه ئې ټکي په ټکي په لفظونو کښې راټول کړل او بیا به ئې خپلې سندرې ، غزل او ډرامې وربانديې ښائسته کړې ـ هغه د لیکوالو په هغه صنف کښې ولاړ ؤ چې خپل تخلیقي صلاحیتونه ئې د خپل ماحول ، ټولنې او ملت په ترجمانۍ کښې استعمال کړي وو ـ د ترجمه ئې د ترجمه نګارۍ په تول پوره ده ـ هغهٔ د ژوند هر یو اړخ چېړلے دے او د ادب په هر یو صنف کښې ئې د خپل صلاحیت مظاهره کړې ده ـ

**تحقیق او تنقید:**

محمد اعظم صاحب یو همه جهت ادیب ؤ ـ نو د شاعرۍ او ډرامو نه علاوه ئې متفرق تخلیقات او تالیفات هم موجود دي ـ د تحقیق په لړ کښې د هغهٔ لویه کارنامه د پي. ایچ. ډي مقاله ده ـ چې عنوان ئې دے : پښتو ادب کښې کردار نګاري ـ دا یو ګټور تحقیق دے ـ په کال ۱۹۹۳ء کښې په چاپ شکل کښې راغله ـ اعظم صاحب ۱۹۷۲ء کښې په پښتو افسانه باندې یو ډېر ښکلے او ښهٔ تنقیدي کتاب لیکلے ـ عنوان ئې دے : پښتو افسانه (تحقیق و تنقید) ـ د هغهٔ د ځینو تصنیفاتو ذکر کول به دلته بې ځایه نهٔ وي :

۱. لشې (۱۹۶۴ء ، ۱۹۹۰ء ، ۲۰۱۲ء)
۲. پښتو افسانه (تحقیق و تنقید) ۱۹۷۲ء
۳. د معرفت ګلونه (ترجمه) ۱۹۹۵ء
۴. اولسي قیصې ۱۹۹۲ء
۵. رحمان بابا د اولس شاعر ۱۹۸۲ء
۶. د پنجاب زمکه او اولس ۱۹۷۲ء ـ
۷. پښتو ادب کښې کردار نګاري ۱۹۹۳ء
۸. جنون او ژوندون ۲۰۰۸ء

۹. پښتني رومانونه ۱۹۸۰ء

دې نه علاوه محمد اعظم په مختلفو موضوعاتو باندې بې شميره مضمونونه هم وخت په وخت ليکلي. په دې کښې داسې کتابونه هم دي چې تر اوسه پورې چاپ شوي نۀ دي. دغه ناچاپ اثار ئې څۀ په دې ډول دي:

۱. د ازادۍ شاعر ۱۹۸۵ء
۲. د تاترې د سر نه ۱۹۷۶ء نه تر ۱۹۷۷ء
۳. پښتو کښې اقبال ۱۹۷۸ء
۴. غزل او د حمزه فکر ۱۹۸۳ء ۱۹۸۴ء.

دا ټول د ډاکټر محمد اعظم اعظم تخليقي اثار دي چې د پښتو ادب د نثري او منظومې پنګې دپاره يوه سود منه او ګټوره اضافه ده.

ډاکټر محمد اعظم د ليکوالو په هغه صف کښې ولاړ دے چې تخليقي صلاحيتونو نه ئې خلق استفاده کوي. هغۀ د ژوند هر اړخ چيړلے دے او د ادب په هر يو صنف کښې د خپل صلاحيت مظاهره کړې ده. هغۀ په ادبي هلو ځلو کښې د هر چا نه مخکښې ؤ. ډاکټر محمد اعظم د خپلې مورنۍ ژبې پښتو ته د قلم په ذريعه او د خپل زړۀ په وينو ډېر څۀ ورکړي دي. د اعظم هر يو شعر د درد په څړيکو د ارمان په اوښلو د خيال په چپو په غورځنګونو کښې ډوب شوے او بيا ئې ځلن د غزل، نظم، ټپې او د قيصې په شکل د کاغذ په سپينه پاڼه ښکاره کړے دے. په نثرنګارۍ کښې هغۀ د تصنيفاتو نه علاوه په ګڼ شمېر کښې مضمونونه هم وخت په وخت ليکلي.

ډاکټر محمد اعظم اعظم د شاعرۍ او نثرنګارۍ دواړو اړخونو جاج که چرې په دقيقې نظر واخستے شي نو لوستونکے په دې حقيقت پوهېږي چې ډاکټر اعظم د ادب د دغه دواړه برخو ماهر ؤ. د هغۀ شاعري او نثرنګاري د خپل وخت نمائندګي کوي او نثر هم د اولس اواز ګڼلے شي. هغه د پښتو ادب استاذ ؤ. د تعليم ماهر ؤ س د سرکار د طرف نه په مختلفو تعليمي ادارو کښې په اعلی عهدو فائز ؤ. د مال، جائيداد خاوند ؤ. خو په خوي خصلت کښې بېخي يو درويش او ملنګ سړے ؤ. د هغۀ شاعري او نثرنګاري د ملک په هره سيمه خوره شوه. محترم ايوب صابر په خپل کتاب جديد پشتو ادب کښې د محمد اعظم په حقله داسې ليکي:

ترجمه:

په شاعرۍ ، ډرامه نګارۍ او مقاله نګارۍ غوندې رنګوه چې يو شکل يو قالب اختيار کړو ، نو هغۀ نه محمد اعظم غوندې عالم پيدا شو . نن سبا په پښتو شعبه کښې د پښتو درس ورکوي او ادب هم تخليق کوي ، خو د هغۀ په باره کښې دا فيصله کول مشکل کار دے چې د پښتو ژبې د يو استاد په حېث زيات کامياب دے يا د يو شاعر په حېث [18] .

# References


١. Hamish Khalil, Da qalam khawandan, melat educational printers,Lahore,1999,p30
٢. Hamish Khalil, Pukhtana leekwal, dwayam Tok, University publishers, Peshawar,2011,p17.
٣. Abid,Abdullahjan, Pashto zuban o adab ke tarikh, University publishers, Peshawar,2011,p255.
٤. Mustafa Kamal, Da Doctor Azam Xwand, Shaseyat ao Fan, the composers , Sher del market , Charsada, 2013,p24.
٥. Azam, Muhammad azam, Gulban(dry myashteeny), Mardan,April – june 1998,p 21, 22.
٦. Dr Muhammad israr sara Khabry atary (record), Mardan, Da Muhammad azam azam class fellow, 2009,
٧. Azam, Muhammad Azam, Dr, junoon ao xwandoon, University publishers, Peshawar, 2008, p 281, 282.
٨. Ibid, p 12,
٩. Ibid,p 37.
١٠. Ibid,p411
١١. Mustafa Kamal, Da Doctor Azam Xwand, Shaseyat ao Fan,,p82
١٢. Molana AbdulQader, deebacha Mashmoola Lashy , Pashto academy, university of Peshawar, chap kal na lari, p7.
١٣. Azam, Muhammad Azam,Dr, Lashy, p 29.
١٤. Azam, Muhammad Azam, Da maarfat Guloona, (da imam kheni da arifana kalam Pashto tarjuma), peshwar, anjaman Pak iran dosti,1995, p 11.
١٥. Ibid,p14.
١٦. Ibid,p14.
١٧. Ayob Sabir, Jadid Pashto Adab, p